# ولې د لاجوردو لاره افغانستان او غړو هېوادونو ته ارزښت لري؟[1]

## شعیب احمد رحیم[2]

***لنډیز***

*په دې مقاله کې به تاسو د افغانستان په نوښت پېل شوې د لاجوردو ترانزیتي او سوداګریزې لارې په تړاو ولولئ، چې څرنګه به د لاجوردو څلورو غړو هېوادونو – افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، ګرجستان او ترکیه – ته ارزښت ولري.*

*دغه لاره به څنګه د افغانستان د سوداګرۍ لارې متنوع کړي، د ترکمنستان د اقتصاد تکیه به څرنګه پر یو صنعت راکمه کړي، او څنګه به ترکیه له منځنۍ اسیا او قفقاز سیمو سره ونښلوي؟ د دغو پوښتنو ځوابونه به په دغه لیکنه کې ومومئ.*

***کیلي:*** *سیمه‌ییز نښلون، د لاجوردو حوزه، د افغانستان سوداګري او ترانزیت، تجارتي اړیکې او اقتصادي اړیکې.*

## پېژندنه

په عمومي توګه د افغانستان د اقتصاد په تړاو بحثونه د هېواد له وچې پورې تړلې جغرافیاوي موقعیت څخه پېلېږي. زموږ د هېواد د جغرافیاوي موقعیت له کبله ده، چې د اقتصادي ودې په لاره کې خنډ ګرځېږي او دغه راز د نورو له خوا د سیاسي ګټو د خوندیتوب په تړاو د فشار د آلې په توګه هم کارول کېږي. همدا لامل دی، چې په هېواد کې د سوداګرۍ د لارو د پیاوړي کولو له بحثونو تود هرکلی کېږي. په همدې تړاو د لاجوردو لاره یو له هغو کلیدي پروژو څخه ده، چې د هېواد سوداګریزې لارې متنوع کولای شي.

د لاجوردو لاره یوه سوداګریزه او ترانسپورتي لاره ده، چې د افغانستان د فاریاب او هرات ولایتونو له آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه پېل کېږي، د ترکمنستان د ترکمنباشي بندر ته رسېږي، بیا د کاسپین سمندرګي څخه په تېرېدو د آذربایجان باکو ته ځان رسوي او له هغه ځایه د ګرجستان د تبلیسي ښار څخه په تېرېدو ترکیې او اروپا ته لاره پیدا کوي (*وګورئ شکل ۱*). په دغه لاره کې د بېلابېلو ترانسپورتي ذرایعو څخه ګټه اخیستل کېږي، لکه سړک، رېل ګاډی، او سمندري ترانسپورتي وسایل. د لاجوردو لارې ترون نهایي کولو تقریباً درېیو کلونو وخت ونیوه، او په پایله کې یې غړي هېوادونه پر یو هوکړه لیک سره سلا شول.

د لاجوردو لارې نوم تاریخي مخینه لري او هغې لرغونې لارې ته پکې اشاره ده چې د افغانستان لاجورد او نور قیمتي کاڼي او ډبرې به یې شمالي افریقا، روسیې، بالکان، اروپا او قفقاز ته ۲۰۰۰ کلونه وړاندې انتقالول. د لاجوردو لارې د بیا پرانستل کېدو په تړاو بحثونه په ۲۰۱۲ز کال کې پېل شول او ورپسې جوخت درې تخنیکي ناستې د حکومتونو په کچه ترسره شوې. د دغو تخنیکي ناستو لومړۍ غونډه د ۲۰۱۴ز کال په نومبر کې وشوه او وروستۍ یې بیا د ۲۰۱۶ز کال په نومبر کې ترسره شوه. د

---


[1] دغه لیکنه د ښاغلي شعیب احمد رحیم له خوا د تحلیل ژورنال دې ګڼې ته په انګلیسي ژبه لیکل شوې وه؛ خو د لوستونکو د آسانۍ لپاره د ښاغلي احمد بلال خلیل له خوا په پښتو وژباړل شوه. اداره

[2] شعیب احمد رحیم افغان لیکوال او د افغانستان او سیمې د سیاسي اقتصاد د چارو شنونکی دی. دی د تجارت د مدیریت او پرمختیایي اقتصاد په برخو کې له پاکستان او انګلستان څخه دوې ماسترۍ لري او دا مهال د کاردان په خصوصي پوهنتون کې د ماسترۍ په برخه کې استاد دی. ښاغلي رحیم تر اوسه په داخلي او نړېوالو رسنېو کې د افغانستان او سیمې د جیواکانومیک موضوعاتو په تړاو بېلابېلې لیکنې کړې دي.

دغو تخنیکي ناستو وروسته، په رسمي توگه د ۲۰۱۷ز کال د نومبر په ۱۵مه نېټه د لاجوردو لارې تړون د رېګا کنفرانس په څنډو کې د ترکمنستان ښار په عشق آباد کې لاسلیک شو.

دغه مقاله د لاجوردو لارې غړو هېوادونو ته د دې لارې جغرافیاوي ارزښت بیانوي. دغه راز په دې مقاله کې هڅه شوې، چې دا پروژه یا لاره به څنګه د غړو هېوادونو د ملي او سیمه‌ییزو لومړیتوبونو په ترلاسه کولو کې مرستندویه واقع شي.

**شکل ۱: د لاجوردو د لارې مسیر**




*ماخذ: د طلوع نیوز وېب‌پاڼه*

## افغانستان

افغانستان د لاجوردو د لارې تړون په خوښۍ ولمانځله؛ ځکه دا به یې مخ پر ځوړ اقتصادي وضعیت ته ملهم شي.

په وچه کې د راګیر هېواد په توګه، افغانستان د خپلې نړیوالې سوداګرۍ لپاره تر ډېره پر پاکستان تکیه کړې او په دې تړاو یې له دغه هېواد سره د افغانستان ترانزیت سوداګرۍ تړون (۱۹٦۵ز کال) او د افغانستان-پاکستان د ترانزیت او سوداګرۍ تړون په ۲۰۱۱ز کال کې لاسلیک کړي وو. خو بیا هم، دا قانوني چوکاټونه د هېواد لپاره مرستندویه واقع نه شول، ځکه افغانستان د پاکستان له لوري له ترانزیتي او سوداګریزو ننګونو سره مخ شو. پاکستان د افغانستان له داسې جغرافیاوي وضعیت څخه په افغانستان کې د خپلو سیاسي موخو او تګلارو د ترلاسه کولو په تړاو د فشار د آلې په توګه کار اخیست[3]. په دې تناظر کې، د لاجوردو لاره به د افغانستان سوداګریزه او ترانزیتي لارې متنوع کړي؛ او دغه راز دا لاره به اروپا ته د افغانستان تر ټولو نږدې، ارزانه او باوري لاره هم وي[4].

له سوداګرۍ او ترانزیت وراخوا، دغه تړون به په سیمه کې د افغانستان د ښېلون لپاره یو ستراتیژیک ګام وي. دغه راز د سویلي اسیا، منځنۍ اسیا، او منځني ختیځ مارکېټونو په لاره کې د یوې څلور لارې په بدلېدو به افغانستان خپل اقتصادي راتلونکی

---

[3] Shoib Rahim, Afghanistan's Dependence on Pakistan: Trade, Transit and the Cost of Being Landlocked, Kardan Journal Economics and Management Sciences, Vol 1 Issue 4, 2018, see it online:< (https://kardan.edu.af/Research/journal.aspx?j=KJEMS&id=35)

[4] Afghanistan Chamber of Commerce and Industries, The Lapis Lazuli Corridor is shortest, cheapest and safest route for Afghanistan's transit trade, see it online:<

http://www.acci.org.af/archive/535-the-lapis-lazuli-corridor-is-shortest-cheapest-and-safest-route-for-afghanistans-transit-trade-.html


هم خوندي کړي. د لاجوردو لاره له نورو سیمه‌ییزو پروژو په ځانګړي توګه له پنځه ملیتي رېل کرښې او د ترکیې د منځنۍ حوزې پروژې سره همغږې ده.

په وروستیو کلونو کې د افغانستان سوداګري او ترانزیت له پاکستان څخه ایران ته انتقال شوی. اوسمهال، د ایران بندر عباس د کراچۍ بندر ځای نیولی. که یو ځل د چابهار بندر فعال شي، نو په اوږدمهال کې ممکنه ده چې دا به د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیت پر نوې لارې بدلون ومومي. په داسې یو شالید کې، که د چابهار بندر؛ عربي بحیرې ته د افغانستان لاسرسی ممکنوي، نو د لاجوردو لاره به یې بیا د تور او مدیترانې سمندرګیو ته لاره هواره کړي.

د هېواد د اقتصادي راتلونکي په تړاو یوه ستراتېژیکه ستراتېژي وایي، چې افغانستان تر هغه پرمختګ نه شي کولای، څو یې چې سیمه‌ییزو او نړیوالو مارکېټونو ته لاسرسی نه وي موندلی[5]. د لاجوردو لارې په مسیر کې د پروسېجرونو په اسانولو او د سوداګرۍ د تسهیلولو له کبله به د لاجوردو لارې له غړو او له اروپايي ټولنې سره د افغانستان سوداګري زیاته شي. اوسمهال د افغانستان واردات او صادرات له دغو هېوادونو سره مخ پر ځوړ دي، چې عمده عوامل یې د افغانستان په عمومي سوداګرۍ کې کمښت او په اوسنیو لارو کې د خنډونو شتون ګڼل کېږي.

د لاجوردو لاره له غړو هېوادونو څخه ترکمنستان او ترکیه د افغانستان د صادراتو لوی مارکېټونه دي. دواړو هېوادونو ته د افغانستان صادرات په ډېری توګه وچې مېوې، د حیواناتو پوستکي، طبي بوټي او نور جوړوي. په بل اړخ کې ګرجستان او آذربایجان ته بیا د هېواد صادرات کم دي. خو افغان حکومت دغو ځایونو ته د کانونو د مارکېټونو په سترګه ګوري. په همدې تړاو د ۲۰۱۹ز کال په جون کې آذربایجان ته ۱۱۵ ټنه د مرمرو ډېرې ولېږدولې[6]. که څه هم په تېره لسیزه کې دا لومړی ځل نه دی، چې افغانستان د مرمرو ډبرې صادرې کړې، دا پخپله په راتلونکې صادراتو کې د کانونو ورتیاوې ښیي.

**شکل ۲: ترکیې او ترکمنستان ته د افغانستان صادرات (۲۰۰۸-۲۰۱۸) (ارقام په میلیون ډالرو کې دي)**




*ماخذ: د افغانستان احصایوي کلنۍ ۱۳۹۷ کال*


د وارداتو په برخه کې، افغانستان تر ټولو زیات له ترکمنستان څخه واردات کوي؛ ورپسې دویم هېواد آذربایجان دی. له ترکیې او ترکمنستان څخه د افغانستان واردات په ډېری توګه خوراکي او غیر خوراکي توکي وي. خو بیا هم، له ترکمنستان څخه د

[5] Islamic Republic of Afghanistan, *Transport and Civil Aviation Strategy 1387–1391 (2007/08-2012/13)*, February 2008, p. 17, http://www.ands.gov.af/ands/final_ands/src/final/sector_strategies/Transport%20Sector%20Strategy%20-%20English.pdf.

[6] Afghan Marble Reaches Azerbaijan via Turkmenistan https://www.business.com.tm/post/3985/afghan-marble-reaches-azerbaijan-via-turkmenistan

وارداتو مهمه برخه برېښنا، ډيزل، مايع غاز، او پيترول جوړوي. همدا عمده لامل دی، چې د نورو په پرتله له ترکمنستان څخه د افغانستان واردات زيات دي.


**شکل ۳: له ترکيې، ترکمنستان او آذربايجان څخه د افغانستان واردات (۲۰۰۸-۲۰۱۸)(ارقام په ميليون ډالرو کې دي)**




*ماخذ: د افغانستان احصايوي کلنۍ ۱۳۹۷ کال*

اوسمهال له اروپايي ټولنې څخه واردات او اروپايي ټولنې ته د افغاني توکو صادرات د تېرو کلونو په پرتله مخ پر ځوړ دي، چې د دې تر شا عمده لامل اروپايي مارکېټ ته پر لارې پراته خنډونه دي. په څوکه کلونو کې اروپايي ټولنې ته د افغانستان صادرات له ۵۰ ميليونو يورو اوړي او په بل اړخ کې واردات بيا له ۹۰۰ ميليونو يورو زيات وي. په تېره يوه لسيزه کې د سوداګرۍ لپاره غوره کال د ۲۰۱۲ز کال و، چې دوه اړخيزه سوداګري پکې له يو ميلياردو يورو واوښته. اټکل کېږي، چې د تسهيل او خنډونو په کمېدو سره به د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ سوداګري زياته شي. (وګورئ شکل ۴).

**شکل ۴: له اروپايي ټولنې سره د افغانستان سوداګري (۲۰۰۸-۲۰۱۸) (ارقام په ميليون يورو کې دي)**




*ماخذ: د افغانستان احصايوي کلنۍ ۱۳۹۷ کال*

## ترکمنستان

د لاجوردو لارې دويم منزل ترکمنستان دی. په دې له طبيعي منابعو ډک، وچې پورې تړلې او په ستراتيژيکه توګه مهم ځای (منځنی اسيا) کې پروت هېواد کې د امريکا متحده ايالاتو، چين او روسيې ترمنځ رقابتونه کومه نوې خبره نه ده. د دغو رقابتونو له کبله د منځنی اسيا هېوادونه اړ شول، چې د خپلو جغرافياوي موقعيتونو په رڼا کې خپلې بهرنی چارې جوړې کړي. د منځنی اسيا له دغو هېوادونو څخه ترکمنستان په ۱۹۹۵ز کال کې د ملګرو ملتونو د يو ځانګړي قرارداد په رڼا کې دايمي ناپيیلتوب غوره کړ، چې دا بيا د نړيوالې سولې او امنيت په تړاو د نومورې هېواد غښتلې ژمنه ښيي.

ترکمنستان په نړېواله کچه د طبيعي غازو څلورم توليدونکی دی[7]، چې صادرات يې بيا تر ډېره روسيې، چين او ايران ته وي. خو په دې وروستېو کې د يو شمېر عواملو له کبله د دغه هېواد عايد له هايډرو کاربن صنعت څخه کمه شوې ده. د ۲۰۱۷ز کال په لومړيو کې، د روسيې د ګېزپروم شرکت له ترکمنستان سره د نرخونو پر سر د تنازعې له کبله له دغه هېواد څخه د غازو واردول بند کړل[8]، او ايران ته بيا د ترکمن غازو لېږدونه د قراردادي ستونزو له کبله بند شوه[9]. دې وضعيت، چين د ترکمنستان د غازو يوازينی خريدار کړ. خو چين ته هم د ترکمن غازو صادرول له ننګونو سره مخ دي. چين ته د ترکمن غازو صادرول له درېيو لارو د ازبکستان او قزاقستان له لارې د چين له لوېديځ سره ترسره کېږي. چين ته د ترکمن غازو د عرضې زياتولو په موخه يوه څلورمه لاره هم پيل کړه، چې له مخې به يې چين ته د ازبکستان، تاجکستان او کرغزستان له لارې تر ۳۰ ميلياردو متر مکعب پورې د ترکمنستان غاز ولېږدول شي. خو له بده مرغه د ۲۰۱۵ز کال د ديسامبر راهيسې، د ازبکستان، تاجکستان، کرغزيستان او ترکمنستان ترمنځ د لارې د مسير پر سر د لانجو او يو شمېر نورو تخنيکي ستونزو له کبله د دې لارې پر جوړونې کارونه تم شوي دي[10].

ترکمنستان په دې ښه پوهېږي، چې د هايډرو کاربن پر صنعت اتکا يو شمېر خطرونه هم لري. همدا لامل دی، چې اوس خپل اقتصاد متنوع کوي. په همدې تړاو يې د ټولنيزې اقتصادي پرمختيا ملي برنامه چې د ۲۰۱۱ز څخه تر ۲۰۳۰ز کال پورې ده[11]، په سيمه‌ييزه کچه پر ترانزيتي حوزې بدلېدو باندې ټينګار کوي. له همدې مخه يې د ترانسپورتي زيربناوو په برخه کې ډېرې پانګونې کړي. د ترکمنستان د ټولنيزې اقتصادي پرمختيا برنامې له مخې، د ترانسپورتي زيربناوو په برخه کې پانګونې بايد د سوداګری د تسهيل او خدماتو پرمختګ سره همغږې وي. په داسې وضعيت کې، د لاجوردو د سوداګری، ترانزيتي او ترانسپورتي لارې تړون د دې هېواد له ملي برنامې سره همغږې ده. دا به دغه هېواد د جنوبي قفقاز، ترکيې او اروپا سره ونښلوي.

## آذربايجان

د لاجوردو د سوداګری او ترانزيتي لارې په مسير کې د آذربايجان، ګرجستان او ترکيې هېوادونه راځي. آذربايجان په جنوبي قفقاز کې د ستراتيژيک لوبغاړي په توګه ارزښتمن هېواد دی. دې هېواد د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته خپلواکي ترلاسه کړه

---

[7] په دې تړاو وګورئ لاندې منابع:
https://www.hydrocarbons-technology.com/features/feature-the-worlds-biggest-natural-gas-reserves/

[8] په دې تړاو وګورئ د ډيپلومات نړيوالې نشريې دغه لاندې راپور:
https://thediplomat.com/2016/01/russias-gazprom-stops-buying-gas-from-turkmenistan/

[9] Bruce Pannier, Turkmen Cutoff of Iran leaves dwindling gas options for Ashgabat, Radio Free Europe, 02 Jan 2017, see it online:<
https://www.rferl.org/a/turkmenistan-iran-gas-dispute-dwindling-options/28209476.html>

[10] Michael Lelyveld, China shelves central Asia gas plan, Radio Free Asia, 20 March 2017, see it online:<
https://www.rfa.org/english/commentaries/energy_watch/china-shelves-central-asia-gas-plan-03202017103720.html>

[11] Diversifying The Turkmen Economy (World Bank)
http://documents.worldbank.org/curated/en/887311468111849090/pdf/ACS12651-WP-P148086-OUO-9-Box391453B.pdf

او د روسانو له خوا د وړو هېوادونو په چارو کې د لاسوهنې له کبله له همغه مهاله راهیسې له روسیې سره په واټن کې واقع شوی دی. په بل اړخ کې، د شیعه ډېرکي مسلمان هېواد په توګه نوموړی هېواد له ایران سره په مذهبي او توکمیزه میراثه کې شریک دی. خو بیا هم، آذربایجان د شوروي مهال سېکولر حیثیت ساتلی او له ایران سره هم کمې سیاسي او اقتصادي اړیکې لري. د آذربایجان او اسراییلو ترمنځ د نږدې نظامي، اقتصادي او سیاسي اړیکو له کبله ده، چې تهران؛ آذربایجان ته د ایران-ضد په سترګه ګوري. همدا لامل دی، چې د دواړو هېوادونو له خوا د یو بل ښاریان د جاسوسۍ په تورونو هم نیول کېږي[12].

د ۲۰۱٦ز کال په اګسټ کې، آذربایجان په یوې درې اړخیزه ناسته کې ګډون وکړ، څو له ایران او روسیې سره د شمال-جنوب ترانسپورتي حوزې په تړاو وغږېږي[13]. د ځمکې او سمندري لارو موخه دا وه، څو هند له اروپا سره د ایران، قفقاز او روسیې له لارې ونښلوي. د آذربایجان جیوپولیټیکي دریځ ته په کتلو سره، په دې درې اړخیزه ناسته کې د آذربایجان ګډون هېښوونکې و؛ خو د دې تر شا عمده لامل د امریکا متحده ایالاتو پاملرنه جلبول و، چې د اوباما ادارې پرمهال دې هېواد ته د واشنګټن پاملرنه کمه شوې وه. خو بیا هم، د آذربایجان له خوا د لاجوردو لارې ترون لاسلیکول د دغه هېواد له جیوپولیټیکي دریځ سره همغږی دی او همهاله به په سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو مخالفینو – ایران او روسیه – سیمه‌ییز اقدامات تلافي کړي.

## ګرجستان

د لاجوردو لارې بل تم ځای ګرجستان دی، چې له روسیې، آذربایجان او ترکیې سره ګډې پولې لري، او لوېدیځ ته یې تور سمندرګی او جنوب ته یې بیا د قفقاز سیمې پرتې دي. له دوو پېړیو راهیسې دغه هېواد پر لوېدیځو مرسته اتکا وکړه، څو د خپلو دوو ګاونډیانو – روسیه او ایران – نفوذ راکم کړي[14]. د لومړۍ نړېوالې جګړې وروسته د انګلستان امنیتي ځواکونو د دې هېواد خپلواکي تر لنډې مودې پورې وساتله؛ خو وروسته د شوروي بلشویکانو دغه هېواد ونیوه. د شوروي اتحاد له ړنګېدو سره ګرجستان په ۱۹۹۱ز کال کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه؛ خو روسان تر اوسه دا ځای خپله د نفوذ سیمه ګڼي. په دې وروستېو کې د ګرجستان پرضد د روسانو د ځواک نمایش د ۲۰۰۸ز کال په اګست میاشت کې وشو، چې له مخې یې روسیې د ګرجستان هېواد اشغال کړ او د دې هېواد د جنوبي اوستیا او آبخازیا سیمې یې د خپلواکو ایالتونو په توګه وپېژندل. د روسانو د دې اقدام تر شا لوی لامل دا تحلیل و، چې ګرجستان د ناټو غړیتوب په ترلاسه کولو سره له لوېدیځ سره له نږدې کېدو وژغوري.

ګرجستان؛ ترکیې ته د آذري تېلو او غازو په ترانزیتي مسیر کې پروت دی. آذربایجان، ګرجستان او ترکیه د درېیواړو هېوادونو ترمنځ د نښلون په تړاو تمرکز کوي. د نښلون په تړاو یو شمېر پروژې لکه د جنوبي قفقاز د غازو نل‌لیکه، د باکو-تبلیسي سیحان د تېلو نل‌لیکه، او د باکو-تبلیسي-کارس د رېل پټلۍ د آذربایجان، ګرجستان او ترکیې لپاره نوي اقتصادي فرصتونه وړاندې کوي.

[12] په دې تړاو وګورئ د نړیوالو رسنیو لاندې راپورونه:

Associated Press, Iran detains 6 suspects on espionage charges in northwest, 23 June 2016, see it online:< https://apnews.com/af6df74dc75742fd8052d5325dca29b3>; The Telegraph, Azerbaijan arrests '22 Iranian spies', 14 March 2012, see it online:< https://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/middleeast/azerbaijan/9144424/Azerbaijan-arrests-22-Iranian-spies.html>

[13] MEMRI, An overview of the Azerbaijan-Iran-Russia Trilateral Summit in Baku, Special Dispatch No 6569, 11 Aug 2016, see it online:< https://www.memri.org/reports/overview-azerbaijan-iran-russia-trilateral-summit-baku>

[14] Andrew North, Georgia's Long Road to Europe, Foreign Affairs, 11 Aug 2016, see it online:< https://www.foreignaffairs.com/articles/georgia/2016-08-11/georgias-long-road-europe>

دغه پرمختګونه په څرګنده توګه د جنوبي قفقاز په سیمه کې د روسانو په پرتله د ترکیې د زیاتېدونکي نفوذ او برلاسي ځای ښکارندوی دی. ګرجستان په دې وروستیو کې د باکو-تبلیسي-کارس د رېل ګاډې پټلۍ د ورېښمینو نوې لارې ترکي بڼه ګڼلې ده، چې له دې څخه به د شمالي افریقا او اروپایان ګټه واخلي، څو له منځنۍ اسیا سره ځانونه ونښلوي[15].

## ترکیه

په بل اړخ کې ترکیه د اروپایي ټولنې لپاره د انرژۍ پر یوې څلور لارې بدلېدل غواړي. اوسمهال روسیه اروپایي ټولنې ته تر ټولو زیات د تېلو او غازو عرضه کوي. اروپايي ټولنه او د امریکا متحده ایالات د بېلابېلو کوښښونو له کبله غواړي، اروپا ته د انرژۍ عرضه متنوع کړي او په دا توګه پر روسیې د اروپایي ټولنې تکیه کمه کړي. په دې تړاو له یو شمېر پروژو په ځانګړي توګه د نابوکو د غازو له نل لیکې ملاتړ کوي، چې دا به بیا د کاسپین او منځني ختیځ غاز استریا او منځنۍ اروپا ته ولېږدوي او داسې به ترکیه د انرژۍ پر یوې څلور لارې بدلون ومومي. د نابوکو غاز نل لیکه به د اروپایي ټولنې انحصار پر روسیې کم او هغه ایراني هڅې ونګوي، چې له مخې یې غواړي اروپا ته د فراملي کاسپین غازو نل لیکې له لارې د غازو عرضه وکړي.

په بل اړخ کې، دا به د ترکمنستان د غازو صادرات هم متنوع کړي او پر چین به د ترکمنستان تکیه کمه شي. د غازو دغه نل لیکه به اروپا ته نه یوازې دا چې د ترکمنستان بلکې د قزاقستان د غازو عرضه هم د سمندري نل لیکې له لارې زیاته کړي.

اوسمهال، د کسپین په سمندر کې د ځمکنیو شخړو او د روسانو او ایرانیانو د شدیدو مخالفتونو له کبله دغه پروژه تم شوې ده. دلته اړینه ده یادونه وکړو چې دغه نل لیکه به اروپا ته د لاجوردو لارې د غړو هېوادونو له ځمکو څخه تېره شي.

## پایله

په لنډه توګه، د لاجوردو لاره نه یوازې دا چې په خپله یوه مهمه پروژه ده، بلکې له یو شمېر نورو سیمه‌ییزو پروژو سره هم همغږې ده. دغه راز دغه پروژه ډېر ظرفیت لري، چې د غړو هېوادونو د سیاسي اقتصادي ګټو اړتیاوې پوره کړي.

افغانستان، ترکمنستان او آذربایجان، چې وچې پورې تړلي هېوادونه دي، د دې لارې له کبله به د لاجوردو لارې د غړو هېوادونو ترمنځ ادغام او همکاري زیاته شي، او د دې لارې د بشپړې فعالېدو له کبله به سیمه خپل وروستي اقتصادي توان ته ورسېږي. له همدې ځایه ده، چې یو ځل د لاجوردو لارې په حوزه کې اړینې زیربناوې جوړې شي او پروسیجرونه اسانه شي، نو دا به نه یوازې دا چې غړو هېوادونو بلکې په پراخه توګه اوراسیایي سیمې ته اقتصادي ګټې ورسوي.

---

[15] د دغه رېل پټلۍ په تړاو د لا مطالعې لپاره وګورئ:

Andrew Korybko, The BTK railway is Turkey's Silk Road Corridor to Central Asia, Oriental Review, 2017, see it online:<
https://orientalreview.org/2017/11/06/the-btk-railway-is-turkeys-silk-road-corridor-to-central-asia/